# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد | بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم | از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com | afgazad@gmail.com

| Poitical | سیاسی |
|---|---|



فرهاد ویاړ


۱۱نومبر ۲۰۱۱

## ننګیني «شپې پانې»

## زموږ د انقلابي روڼ اندو مبارزه لا پیاوړي کوي

په دې وروستیو کې خبر شوم چې د افغانستان انقلابي روڼ اندي، مورخ او مبارز لیکوال ښاغلی موسوی د ځینو معلوم الحاله نوکرانو لخوا تر لیکنیز برید لاندې راغلی دی. دا ښکاره او څرګنده خبره ده چې کله یو انقلابي روڼ اندی په جدي توګه په کار او مبارزې پیل کوي او یا د خپل مبارزاتي تاریخ په اډانه کې د تداوم لپاره هڅه کوي، دښمنان یې هم هلې ځلې کوي چې د بیلابیلو لارو چارو په کارولو سره، د هغه د مبارزاتی فعالیت مخه ډب کړي.
هغه کسان چې ورته د هیواد استقلال او خپلواکي کوم ارزښت ونلري او د امپریالیستانو د غلامی په مارکیټ کې د ځان پیریدنې لپاره په دوو پښنو ناست وي، داسې کسان لومړی هغه روڼ اندي او مبارزین تر برید لاندې نیسي چې د هیواد د استقلال لپاره مبارزه کوي او د ښکیلاک او استعمار ظلم او جنایت په ورځني توګه بربنډوي او ولسونه پیوستون او یووالي ته هڅوي، څو د استقلال غوښتونکی غورځنګ لا پیاوړي او پراخه شي او د هیواد بدنامه او جنایتکاره دښمنان په ګونډو کړي.
د افغانستان د استقلال غوښتونکي غورځنګ داسې ډیر انقلابي روڼ اندي او مبارزین لري چې خپل ټول توان او انرژي د هیواد د استقلال او خپلواکۍ په لاره کې کاروي او په دې برخه کې د هیڅ ډول قربانۍ نه ډډه نکوي. ځکه دا انقلابي روڼ اندي په دې ښه پوهیږي چې د هیواد د استقلال او خلاصون مبارزه له هغو کړکیچونو او ستونزو ډکه ده چې بنایي یو انقلابي د ستونزو، ګواښونو، تورونو او د لیچنو مزدورانو د ننګینو «شپې پانو» سره سره دا لاره په مقاومت ووهي او د یو سپیڅلي مبارز په توګه د بریا بیرغ ورپوي.
ښاغلی موسوي د دې مبارزینو له ډلې څخه هغه انسان دی چې د ناروغی او د تسلیم غوښتونکي، منحرفینو او د تالي څټو نوکرانو د ګواښنې، تهدید او «سپکاوي» سره سره د هیواد استقلال او په دې لاره کې مبارز د ټولو ارزښتونو څخه لوړ ګڼي او د همدې لپاره ټل هڅه کوي چې د خپل ژوند ډیره برخه دې پرتمین ډګر ته بیله کړي.

زه باور لرم چي د ډارونو انسانانو هيڅ ډول سپکاوی، د يو انقلابي پر مبارزاتي ژوند برید او د هغه د کورنۍ او دوستانو تحقيرولو، د موسوي په شان د مبارز انسان د استقلال غوښتوني، مبارزې او د زيارکښو انسانانو د ژغورنې په لاره کې هلې ځلې لا ګړندی کوي او دښمنان يې لا شرموي. ځکه کله چې يو انقلابي انسان د هغو بې ننګه ليکوالو تر برید لاندې راځي چې شپه او ورځ د ولسونو د دښمنانو په چوپړ کې له خيانت پرته بل کار نلري، په خپله څرګندوي چې د هغه مبارزه اغيزناکه تمام شوی او ښايي دا مبارزه لا ګړندی او پياوړې کړي.

موسوي په دې ښه پوهيږي چې ولې د هغو کسانو تر برید لاندې راځي چې په يو ډول نه په يو ډول د ښکيلاک سره اړيکې لري. له دې مخکې هم، خو نه د «شپې پاڼې » له لارې، دا مبارز ليکوال د انقياد غوښتونکو او تسليم طلبو عناصرو تر ليکنيز برید لاندې راغلی او باید هم راشي، ځکه کله چې د هيواد د استقلال مبارزه پيليږي، د مبارزې په متن کې دوه اړخه سر راپورته کوي، يو استقلال غوښتونکی اړخ او بل تسليم طلبه اړخ او دا ښکاره او جوته ده چې د دوې دوو تر منځ نه پخلا کيدونکی جګړه پيليږي او بيا هم څرګنده ده چې دا جګړه، د ټولو قربانيو سره ، د استقلال په ګټه تماميږي. خو په دې منځ کې دردناکه خبره دا ده چې د هغه چا تر برید لاندې راشي چې په ظاهره دې ملګرې خو په باطن کې دې دښمن وي، او دا ځل له بده مرغه زموږ دا مبارز د همداسي منافق انسان تر ليکنيز برید لاندې راغلی دی؛ که څه هم دا برید دردناکه دی، خو د هغې **ناملګري** له مخې نقاب څيروي چې دا وخت د ګوډاګيانو او ولس دښمنو عناصرو په چوپړ کې نڅيږي.

ښاغلی موسوي، پريږده چې سپيان وغاپي، د استقلال رښتيني کاروان مخ په وړاندې درومي او دا کاروان به تل خپل سپيڅلي لارويان په ياد ولري. پريږده د ننګينو شپې پاڼو ليکوالانو انګولاوې پورته شي، هغوې به د ذلت پرته بل څه لاس ته را نه وړي، د هغوې انګولاوی زموږ د مبارزې فرياد لا پرتمينوي.